انجنیر سلطان جان کلیوال

۸/۳/۲۰۲۱

# لوئی امریکی وړه امریکا د تباهی سره مخ کړه.

له بده مرغه د وطن حالات مو سخت خواشونکي او دردونکي دي. له بدخشان نه رانیولی تر د هراته پورې، له فاریاب نه تر پکتیکا او کونړه پورې د هیواد ټوله جغرافیه او په دی ټوله ساحه کی اوسیدونکي بی وزله ولسونه د بی رحمه، ظالم او وحشی وسله والو ډلو د وژونکو او تباه کونکو حملو او ګزارونو سره مخامخ دی او هره شیبه په لسګونو او سلګونو بی دفاع او مظلوم وطنوال د مرګ او ژوبلی سره ، د جبری بی ځایه کیدو سره، د لوږې او تندې سره مخ کیږی او له منځه ځی. د دوی په تباهي سره په لاهور او اسلام آباد کی د خوښیو جشنونه جوړیږی او د لوئي امریکا زمامداران یی په غړولو او واږو سترګو سیل کوی.

د هیواد په ډیرو برخو کی ملی پاځونونه وشول او د هیواد د امنیتی قواو سره یوځای د وطن او وطنوالو د ساتنی د پاره تیاری و نیول شوې.( داچی دا پاځونونه به وروسته څه رامنځ ته کوی بله موضوع ده)او په ډیرو برخو کی تر اوسه د وطن د ساتنې برخه کی هلی ځلی کوی.

که د ټول هیواد نه یواځی د هیلمند ولایت چی د زمونږ د زمانی په اوږدو کی د افغانستان د غنمو د ګدام، د وړې امریکا، د یورانیومو د زخیری په نوم یادیده او د ټول افغانستان د خاوری لسمه برخه ساحه او د افغان دولت د پاره تر بل هر ولایت نه د لوړ ستراتیژیک ارزښت لرونکی ولایت دی په نظر کی ونیسو، نو وینو چی، هلته همدا اوس د لښکرګاه د ښار له ۱۲ امنیتي حوزو نه یواځی دری امنیتي حوزې د دولت پا لاس کی دی چی هغه هم په شدیده توګه محاصره او د طالبانو د حملو لاندی ده، نوری ۹ امنیتي حوزې د ټولو ولسوالیو سره د طالبانو د کنترول لاندی راغلی دي. زمونږ نظامی او د سیاسی چارو شنونکی د دی سقوط او په ټول هیواد کی د پرله پسی ماتو پړه د هیواد په امنیتي مسؤلینو وراچوی، خو زه د امنیتي مسؤلینو د بی پلانی او ضعیف مدیریت تر څنګ د دی بد حالت لوی مسؤلیت د امریکا د سوپر طاقت او د هغوی د ناټو د نظامی پکټ په غاړه بولم. خو اوس به څوک د امریکا نه دا پوښتنه وکری چی:


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

۱ ـ ولی مو په افغانستان باندی حمله وکړه او ایا هغه هدف چی د حملی د پاره مو بهانه کړی و یعنی د تروریزم نا بودی او شکست، تر د لاسه کړ؟

۲ – ایا تاسو د څه د پاره د هغه افغان دولت سره چی تاسو په خپله خوښه جوړ کړی و ستراتیژیک تړون لاس کړ، او ایا اوس د هماغه تړون مطابق عمل کوي؟ که یی کوی نو ولی د پاکستان د دولت د ښکاره نظامی مداخلی مخه نه نیسی؟ او بیا ولی د افغان امنیتی ارګانونو سره د مرستی تر نامه لاندی د هیواد په ولسی وګړو ړانده هوای ګزارونه کوی؟

۳ ـ د امریکا دولته! ایا څه فکر کوی، چی د همدی وړې امریکی یعنی د هیلمند له ولایت څخه به د شریر پاکسان د (آی اس آی) د اداری د شیطانی طرحو له مخی، د سقوط په صورت کی بیا ستا په برجونو او مورچو ګزارونه ونه شی؟ او که داسی وشول نو بیا به هم په افغانستان باندی لښکر کشی کوی؟

بس ، مونږ به هم انتظار کوو او تاسو هم د وړې امریکا (هیلمند) وروستې رول ته د سقوط او تباهې نه وروسته حالت ته منتظر اوسی. پای



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړئ.



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com